# قلندر مومند

## ژوند او ادبي خدمت / سيمينار

**رپورټ: حېران مومند**

د زړور نقاد، ښهٔ شاعر، حساس او ذمه وار محقق، نابغهٔ روزګار، بېدار صحافي مقصد دا چې د يو لوئے شخصيت او د علم و ادب معياري ادارې او خوږ انسان مرحوم قلندر مومند د ژوند او ادبي خدماتو په حقله پېښور پرېس کلب کښې يو دروند سيمينار وشو چې اهتمام ئې اکادمي ادبيات پېښور څانګې کړے وۀ چې د پېښور پرېس کلب د کلچرل کمېټۍ مرسته هم ورته حاصله وه.




د غونډې د نظامت فرائض اباسين يوسفزي ترسره کړل، صدارت ئې د پي ټي وي پېښور سنټر جي ايم مجيد الله خليل وکړو. د مشر مېلمه په توګه سليم راز رابللے شوے ؤ. پرېزېډيم کښې د صدر تر څنګ سعد الله جان برق، د پېښور پرېس کلب صدر شميم شاهد، د هندکو ژبې ليکوال اسماعيل اعوان، روښان يوسفزے او کوربه ډاکټر محمد اعظم اعظم ناست وو. د کوربه په حېثيت د اکادمي ادبيات پېښور څانګې مشر ډاکټر محمد اعظم اعظم ووې:

"دا سيمينار د يو داسې هستۍ په حواله کېږي څوک چې د پښتو او اردو دواړو ژبو يو ښهٔ شاهسوار ؤ، صحافت ئې هم ښهٔ په نره کړے دے او زهٔ وايم چې د شلمې صدۍ د ټولو نه لوئے او وزن دار نوم او شخصيت د قلندر مومند مرحوم دے. په هر قدم ئې زمونږه راهنمائي کړې ده. د علميت او پوهې هر کار ئې په اعلې معيار سره کړے دے. يو ګڼ اړخيز شخصيت وۀ او هم په دې سبب ئې په نوي کُول دروند اثر دے. افسانه ئې د فن معراج ته رسولې ده او لا تر اوسه د "ګجرې" بدل پېدا نۀ شو او هم دغسې د قلندر مومند شاعري د فکر او پېغام نه علاوه په ځان کښې دننه يو روڼ روماني رنګ او اهنګ هم لري. قلندر مومند د ادب او صحافت په مېدان کښې د فن او لفظونو صنعت ګر ؤ".



زلمي ليکوال مصطفٰي کمال د قلندر مومند "د افسانو لنډ جاج" عنوان لاندې خپله مقاله واوروله. دوي ووئيل چې قلندر مومند د جديد سوچ او اپروچ خاوند ليکوال ؤ او حقيقي واقعاتو ته ئې د افسانو جامې اغوستې دي او د افسانې مېدان کښې پښتو ژبې او پښتو ادب بل قلندر پېدا نۀ کړو. د دوي نه پس ډاکټر محمد زبير حسرت خپله مقاله واوروله او ډاکټر يارمحمد مغموم هم خپل ليک وړاندې کړو. ښاغليو ودود هشنغري، ګل زاده کوثر او شوکت حسين حسرت د خپل عقيدت اظهار د نظم په خوږه او لطيفه پېرايه کښې وکړو.

د پېښور پرېس کلب کلچرل کمېټۍ واکمن روښان يوسفزي په خپلو خبرو کښې ووې چې قلندر مومند په هر مېدان کښې دومره ستر حېثيت او دنګ مقام ولې لري؟ زمونږه ليکوالو له پکار دي چې په دې خپل تحقيق وکړي ځکه چې تر اوسه په قلندر مومند څومره کار شوے دے نو هغه په سېر کښې پونۍ هم نۀ ده رېښل شوې.

وروستو د قلندر مومند کشر زوي مشهور صحافي ځلان مومند په خپلو خبرو کښې ووې چې د قلندر مومند اختلاف ځکه دومره شد ومد سره کېدو چې هغوي "ستېټسکو" چيلنج کړې وه او مخالفت کېدل ئې يقيني امر ؤ چې "ستېټسکو" چېلنج شوې وه او کۀ مخالفت نۀ ؤ شوے نو بيا خو دغه "ستېټيسکو" چيلنج نۀ وه.

په دې موقع ډاکټر راج ولي شاه خټک په خپلو خبرو کښې ووې چې د يو لوئي علمي شخصيت په حقله څۀ وئيل او ليکل تقاضا کوي چې سړے دې هم هاغه هومره علميت او پوهه ولري چې د وئيلو او ليکلو حق خو ادا شي کنه نو ځکه زما په شانې کسانو دپاره د قلندر مومند په حقله څۀ وئيل ګران کار دے. ځکه چې په سباوون کښې مونږه ته قلندر مومند څومره شاعر ښکاره شو، هغه د دې نه ډېر لوئے شاعر دے. څومره چې په افسانه، تحقيق او تنقيد کښې ښکاره شو، قلندر مومند د دې نه په حقيقي معنو کښې ډېر لوئے دے نو ځکه مونږه د يو علمي شخصيت اندازه په خپلو رسمي خبرو کښې نۀ شو کولے.

قلندر مومند د روايت نه بغاوت کړے دے، نوې رڼا او جدت فکر ئې رامنځ ته کړے دے. زمونږ دپاره يوه لويه لائبرېري ده. مونږ ئې د ډېرو کتابونو د لوستې نه خلاص کړي وو چې څۀ مشکل به راته پېښ شو د قلندر مومند نه به مو تپوس وکړو، مسئله به حل شوه. دا قسم علمي ستې هر وخت نۀ پېدا کېږي. قلندر مومند خپل رومان په پښتو قربان کړے ؤ".

په سيمينار کښې د راج ولي شاه خټک د تاثراتو نه پس اکرام الله ګران نظم وړاندې کړو او دې پسې سم کالم نګار، شاعر، اديب سعدالله جان برق د اعزازي مېلمه په حېث خپلو خبرو کښې ووې چې د قلندر مومند په سر، د هغوي په موجودګۍ

کښې مونږه ډېر ډاډه ګرځېدو، اوس مونږه ټول یتیمان شو او مخالفت د هغهٔ نه د هغهٔ د فن او مقام کېدو خو په دې هیڅ فرق نهٔ پرېوځي ځکه چې مخالفت د سړیو کېږي.

د سیمینار مشر مېلمه سلیم راز چې سره د خپلې ناروغۍ راغلے ؤ، مائیک ته راوغوښتلے شو. سلیم راز ووې چې د قلندر مومند د شعر تشریح د هاغه وخت د سیاسي پس منظر مطابق کول پکار دي د مثال په ډول د هغوی دا شعر چې:

داؤ به کړې یاران پرې قلندره ډېر
تهٔ چې کومه لار د ژوندانهٔ غوره کړې

دا په هاغه وخت کښې د ایوب خان مارشل لا لګېدلې وه په هاغه پس منظر کښې دا شعر وئیل شوے دے نهٔ چې د خپلو ملګریو د مخالف کېمپ ته تګ او ودرېدل ترې مراد دي.

سلیم راز ووې چې کله زما سیاسي فکر، شاعرانه سوچ په بلوغت کښې ؤ نو زما ملاقات د قلندر مومند او اجمل خټک سره وشو چې زما فکري او سیاسي تربیت ئې کړے دے او زهٔ دا فخر ګڼم. په افسانو کښې د قلندر مومند فنکارۍ د کتو ده، قلندر کهٔ قلندر دے نو د سباوون او ګجرې په حواله قلندر دے، قلندر، ګجرې جوړ کړے دے او سباوون ښکاره کړے دے.



د مشر مېلمه سلیم راز نه پس صدر مجلس مجیدالله خلیل ووې چې دا مجلس د ستائینې وړ دے. د قلندر مومند په نامه چې هر چرته محفل جوړ وي مونږه نابللي هم هلته ځان ورسوو نو ځکه زهٔ وایم چې په دې مجلس کښې په صدارتي چوکۍ ناسته زما دپاره د لوئے فخر خبره ده. مونږه د قلندر پتنګان یو، مونږه قلندر صاحب فقط پښتو ژبې پورې محدود کړے دے، قلندر مومند یو عالمي لیکوال ؤ، پښتو ئې د ترجمې په حواله په خپل کور پوره کړې ده، د صحافتي خدماتو نه ئې هم څوک انکار نهٔ شي کولے، په تېر وي د پښتو ناول په حقله پروګرام ؤ چې قلندر مومند، پرېشان خټک او رسا صېب پکښې شریک وو، د پروګرام کوربه پوښتنه وکړه چې د پښتو ناول په کوم مقام دے، پرېشان خټک ووې چې "قلندره" ته خپله رائې اول ورکړه. هغوي ووې چې اردو ډېره مړه ژبه ده خو په اردو کښې هم داسې د قدر وړ "ناول" نشته او بیا څهٔ موده پس فیض احمد فیض جنګ اخبار ته په یوه انټرویو کښې وئیلي وو چې مونږه سره په اردو ژبه کښې داسې ناول نشته چې فخر پرې وکړو، سبوا د جاوېد اختر د کتاب نه.

مجیدالله خلیل خپلې خبرې د قلندر مومند په دې شعر ختمې کړې چې:

ګلستان کهٔ مې په وینو تازه کېږي
هر ازغے دې هم زما په زړهٔ کښې مات شي

د سیمینار په اخره کښې سېدولي خیال د راغلیو مېلمنو او پېښور پرېس کلب د کلچرل کمېټۍ مننه وکړه او د پروګرام ختمولو اعلان ئې وکړو.